د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون
(۱۰) مه مصوبه
د ۱۴۴۴ هـ ق کال د رمضان المبارک ۲۶ مه
د ۱۴۰۲ هـ ش کال د کب ۲۸ مه

د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون

---

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ ق کال لسمه غونډه، دو شنبه د رمضان المبارک ۲۶ مه (د ۱۴۰۲ هـ ش کال د کب ۲۸ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرینه مانۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د افغانستان د صنایعو او کانونو خونې، د اوسپنې وېلې کولو پر فابریکو د دولتي ادارو د داغمه جاتو عادلانه وېش لپاره د مالیې وزارت په مشرۍ د داغمه جاتو کمېټې د بیا فعالولو غوښتنه کړې ده.

همدارنګه له داغمه جاتو څخه د مؤثرې ګټې اخیستنې اړوند د ملي پراختیا شرکت طرحه د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسیون ته رالېږلې ده.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | - د افغانستان د صنایعو او کانونو خونې د غوښتنې پر اساس، د اوسپنې وېلي کولو فابریکو د دولتي ادارو داغمه جاتو عادلانه وېش لپاره، د مالیې وزارت په مشرۍ دې له ملي دفاع، کورنیو چارو، کانونو او پټرولیم، اوبو او انرژۍ، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو او د صنایع او کانونو له خونې څخه یوه ګډه کمېټه جوړه شي؛ یاده کمېټه دې د پنځلس ورځو په موده کې د داغمه جاتو اړوند، پر پخواني قانون او طرزالعمل کار وکړي او د مشخصو تعدیلاتو تر راوستلو وروسته یې دې د تائید لپاره، اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>- یاده کمېټه دې د قانون او طرزالعمل په تعدیل کې د داغمه جاتو په منځ کې د ماشین آلاتو د پرزه جاتو او سکریپ تر منځ تفکیک ته، خاصه توجه وکړي.<br>- مؤظفې کمېټې ته دنده سپارل کېږي چې له داغمه جاتو د مؤثرې ګټې اخیستنې په موخه د ملي پراختیا شرکت لخوا جوړه شوې طرحه و ارزوي او په اړه یې دې خپل نظر د اقتصادي کمېسیون غونډې ته وړاندې کړي.<br>- توظیف شوې کمېټه دې د کاپیسا ولایت د باغدرې پر بند، د امارتي داغمه جاتو له خرڅلاو څخه د ترلاسه کېدونکو پیسو د مصرفولو لپاره هم یو روښانه میکانیزم جوړ کړي.<br>- د دفاع او کورنیو چار وزراتونه او ټولې نورې امارتي ادارې دې د یادې کمېټې لخوا د داغمه جاتو لپاره د طرزالعمل تر جوړېدو او د | د مالیې، ملي دفاع، کورنیو چارو، کانونو او پټرولیم، اوبو او انرژۍ، صنعت او سوداګرۍ او د اقتصاد وزارت، د ملي پراختیا شرکت، د افغانستان د صنایعو او کانونو خونه | عاجل |

دافغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادی معاونت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

| | | | |
|---|---|---|---|
| | اقتصادي کمېسيون تر تائيدۍ پورې، د هر دول زړې اوسپنې او داغمه جاتو له خرڅلاو او ليلام څخه په کلکه ډډه وکړي. - د اوبو او انرژۍ وزارت دې د کاپيسا ولايت د باغدرې بند د جوړولو په موخه لازم اقدامات تر لاس لاندې ونيسي. - د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۰۱ هـ.ش کال مصوبې اوومې پرېکړې پر اساس د کانونو او پټروليم وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټه دې د يادې پرېکړې په نظر کې نيولو سره، د افغانستان اوسپنې صنعت ضرورتونو ته په کتو، د حاجيګک اوسپنې کان د اکتشاف، استخراج او بهره بردارۍ په موخه د دولتي شرکت په ايجاد سره لازمې کړنې ترسره کړي. | | |

**دويمه موضوع:** د افغانستان د نفتي موادو د چاڼ خونو لپاره د کاندنسات ګاز او نورو اضافي موادو د توريد د څار ميکانيزم.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | د افغانستان د نفتي موادو د چاڼ خونو لپاره د کاندنسات ګاز او نورو اضافي موادو د توريد د څار ميکانيزم اړوند دې د اقتصادي معاونيت د استازي په مشرۍ مؤظفه کمېټه پر مکانيزم کار وکړي او يوې واحدې موافقې ته تر رسيدلو وروسته، ياد مکانيزم د تائيد په موخه اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. | اقتصادي معاونيت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د نفتو او ګازو دولتي شرکت او د نورم او سټنډرډ ملي اداره | درې اونۍ |

**درېيمه موضوع:** د مالګې د خامو موادو د توريد پروسيجر.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | - د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د هدايت مطابق، د ماليې او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او نورو اړوندو ادارو لخوا افغانستان ته د خامې مالګې د توريد جوړ شوي ميکانيزم په نظر کې نيولو سره، د موقت وخت لپاره افغانستان ته له بهر څخه د خامې مالګې توريد ته اجازه ورکړل شي. - د کانونو او پټروليم وزارت مکلف دی چې څومره زر ممکنه وي، داسې پاليسي او کړنې غوره کړي چې پر بناء يې افغانستان د خامې مالګې له درکه د بهرنۍ خامې مالګې له اړتيا څخه پر خان بسيا شي. - د ماليې وزارت په مشرۍ، له کانونو او پټروليم، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د خوړو او درملو له ادارې څخه دې يوه کمېټه جوړه شي او په افغانستان کې د مالګې اړوند کانونو موجودې ذخيرې او د فابريکو توليدي ظرفيتونه او کيفيت و څېړي او خپل رپوټ اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. | د ماليې، صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټروليم وزارتونه، د خوړو او درملو ملي اداره او نورې اړوندې ادارې | يوه نيمه مياشت |

**څلورمه موضوع:** د ریاست الوزراء عالي مقام د مرکزي ثبت په اداره کې د واحد چتر لاندې د جوازونو د صدور په پروسه کې د ستونزو په اړه د صنعت او سوداګرۍ وزارت د ګزارش له لوستلو وروسته داسې هدایت کړی دی:

«وکتل شو!

د اقتصادي چارو محترم کمېسیون دې د یادې موضوع په اړه خپل نظر راسره شریک کړي.»

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د مرکزي ثبت په اداره کې د واحد چتر لاندې د جوازونو د صدور په پروسه کې د ستونزو په اړه، د ۱.۱.۱ کابینې شوې فیصله قابل د تعمیل ده. | اړوندې ادارې | د کابینې د پرېکړې مطابق |

**پنځمه موضوع:** د بهرنیو چارو وزارت د قونسلي چارو ریاست او د مالیې وزارت د غیر مالیاتي عوایدو برخې د غیر مالیاتي عوایدو د ډېروالي طرحه د منظورۍ لپاره اقتصادي معاونیت ته رالېږلې ده.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | د بهرنیو چارو وزارت د قونسلي چارو او د مالیې وزارت د غیر مالیاتي عوایدو ریاستونو لخوا، د غیر مالیاتي عوایدو د ډېروالي چمتو شوې طرحه دې د اقتصادي کمېسیون غړیو وزارتونو سره شریکه شي؛ یاد وزارتونه دې نوموړې طرحه وڅېړي او خپل نظرونه دې د شل ورځو په موده کې د اقتصادي کمېسیون مجلس ته وړاندې کړي. | د اقتصادي کمېسیون غړي، د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء | ۲۰ ورځې |

**شپږمه موضوع:** د کابل ښار د اوبو سرچینو له تغذیوي سیمو او غیر صنعتي زونونو د معدني اوبو، غیر الکولي مشروباتو او لبنیاتو د فابریکو او شرکتونو د انتقال اړوند د اوبو او انرژۍ وزارت وړاندیز.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۶ | - د کابل ښار د اوبو سرچینو له تغذیوي سیمو او غیر صنعتي زونونو د معدني اوبو، غیر الکولي مشروباتو د فابریکو او شرکتونو د انتقال اړوند د معدني اوبو، غیرالکولي مشروباتو فابریکې او شرکتونه مکلف دي چې د همدې مصوبې له صدرو څخه وروسته د خپلو فابریکو د اوبو ټولې اړتیاوې د ټانکرونو په مرسته، له کابل څخه بهر د اوبو سطحي سرچینو څخه تأمین کړي.<br>- د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ د اوبو او انرژۍ، صنعت او سوداګرۍ، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ او د عامې روغتیا وزارتونو، د خوړو او درملو او د چاپېریال ساتنې ملي ادارو څخه دې یوه ګډه کمېټه جوړه شي او د یو کال په موده کې له کابل ښار څخه یو مناسب ځای ته د معدني اوبو، غیر الکولي مشروباتو او په تدریجي ډول د لبنیاتو تولیدي فابریکو، شنو خونو او کرنیزو فارمونو د ځای پر ځای کولو په موخه، یو واضح او عملي طرزالعمل برابر او د تائید لپاره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د اوبو او انرژۍ، صنعت او سوداګرۍ، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ او د عامې روغتیا وزارتونو، د خوړو او درملو او د چاپېریال ساتنې ملي ادارې | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| | - مؤظفې کمېټې ته دنده سپارل کېږي چې د معدني اوبو او غیر الکولي مشروباتو فابریکه لرونکو سره په همغږۍ د اوبو پر نرخونو باندې بیا کتنه وکړي. | | |

**اوومه موضوع:** د کابل ولایت د شاه و عروس بند د موضوع د څېړلو لپاره د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴/۷/۲۷هـ.ق نېټې (۷) مې کڼې مصوبې د (۴) مې پرېکړې پر اساس د تاکل شوي هیئت رپوټ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۷ | - د کابل ولایت د شاه او عروس بند د موضوع د څېړلو لپاره د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴/۷/۲۷هـ.ق نېټې (۷) مې کڼې مصوبې د (۴) مې پرېکړې پر اساس، د تاکل شوي هیئت رپوټ او اړونده وراندیزونه تائید دي.<br>- د اوبو او انرژۍ، مالیې وزارتونه او د افغانستان بانک دې لازمې کړنې عملي کړي. | د اوبو او انرژۍ او مالیې وزارتونه او د افغانستان بانک | عاجل |

**اتمه موضوع:** د کوچنیو متشبثینو د ملاتړ په موخه د اصنافو د ثابتې مالیې د نورم کمولو اړوند د مالیې وزارت رپوټ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۸ | د کوچنیو متشبثینو د ملاتړ په موخه د اصنافو د ثابتې مالیې د نورم کمولو اړوند د مالیې وزارت رپوټ، تائید او پخوانی نرخ تمدید دی. | د مالیې وزارت | دوامدار |

**نهمه موضوع:** د رحمت ساحل محمد شرکت اړوند د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴/۷/۱۰هـ.ق نېټې (۶) مې مصوبې (۳) مې پرېکړې پر اساس د تاکل شوي هیئت رپوټ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۹ | د رحمت ساحل محمد شرکت اړوند د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴/۷/۱۰هـ.ق نېټې (۶) مې مصوبې (۳) مې پرېکړې پر اساس د تاکل شوي هیئت رپوټ واورېدل شو؛<br>د نوموړي شرکت د وراندیز اړوند، د ۱.۱.۱ کابینې لخوا د ګمارل شوي هیئت د کار تر بشپړېدو وروسته به اقتصادي کمېسیون څېل نظر څرګند کړي. | د چارو اداري لوی ریاست | د ارتیا مطابق |